DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

سال پنجم شماره ۱۸۱
شماره مسلسل ۸۰۷
چهارشنبه ۵ اسد ۱۳۸۴ هـ ش
۲۰ جمادی الثانی ۱۴۲۶ هـ ق
27 July, 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

۵۰ طالبان وژل شوي دي

دارزګان والي وايي چې دزمري په ځلورمه شپه يې په دهراود ولسوالۍ کې دطالبانو يو ستر مرکز له منځه وړی. ۵۰ طالبان يې وژلي او ۴۵ يې ژوند نيولي دي خو دطالبانو وياند ادعا کوي چې ۲۸ دولتي او ائتلافي سرتيري يې وژلي دي. دارزګان والي جان محمد خان پژواک خبري آژانس ته وويل ددهراود په سياه جوی سيمه کې دطالبانو يو ستر مرکز و چې په سلګونو طالبان پکې اوسيدل چې له دې مرکز څخه دري ولايات، زابل، ارزګان او کندهار اکمالیدل.

ده زياته کړه چې ددوی خواکونو تيره ورځ په دغه مرکز

عملیات پیل کړل او مرکز يې له منځه يووړ چې پکې تر ۵۰ طالبان وژل شوي او ۴۵ يې ژوندي نيولي دي

ده داهم وويل چې په دغو عملياتو کې ائتلافي خواکونو، ملي اردو او ملي پوليسو ونډه لرله

۴مخ

د ارغستان امنیه قوماندان شهید شو

د کندهار ولایت دارغستان ولسوالۍ امنیه قوماندان حاجي پایو د نامعلومو وسله والو لخوا په شهادت رسیدلی دی.

ددغې ولسوالۍ مرستیال حاجي لال ویلي چې دولسوالۍ دامنیه قوماندان حاجي پایو دارغستان او معروف ولسوالیو ترمنځ په لویه لاره دګزمې پنه حال کې و چې نامعلومو وسله والو پرې برید وکړ.

ده زیاته کړه چې په دغه برید کې نومورې سره یو عسکر هم شهید شوی.

دده په وینا په سیمه کې پلټنې روانې دي او په دې تور یې تر اوسه څوک ندي نیولي.

۴مخ

'صدای ملا عمر' تحویل رسانه ها شد

چندین رسانه در کشور یک نوار صوتی که گفته می شود حاوی پیامی از سوی ملا محمد عمر رهبر متواری طالبان است دریافت کرده اند.

صاحب صدا در این نوار صوتی از هواداران جنبش تندرو طالبان می خواهد به جهاد ادامه دهند.خشونت هایی که عمدتاً به طالبان نسبت داده می شود در سال جاری جان تقریبا ۷۰۰ نفر را گرفته است که اکثریت آنها به حوادث چهار ماه گذشته مربوط می شود.

از زمان سقوط حکومت طالبان و پس از حمله نیروهای تحت رهبری امریکا در سال ۲۰۰۱ محل اختفای ملا عمر نیز همچون متحد او اسامه بن لادن مجهول بوده است. ص۴

سرمقاله

د لوی امر پښتونکی خدای په نامه

پاکستان خپلې ویناوې په خپلو کړنو ردوي

له کومې ورځې څخه چې طالبان او تروریستي عناصر له خپلو هغو سیمو څخه چې په قبایلي سیمو او پاکستان کې وو راوتلي دهرې ورځې په تیریدو سره یې زمونږ د خلکو او هیواد پرضد ورانوونکي او وژونکي بریدونه زیات شوي ان چې زمونږ د دیني علماوو په وژنه یې ځکه لاس نه دی نیولی چې دیني علما کولای شي د هغوی اصلي ځیری خلکو ته رسوا کړي مونږ ددی حق لرو چې د تروریستي عناصرو د روزونکو او روزنیزو مرکزونو او دهغوی د مذبوحانه ناروا او اسلام ضد هلو ځلو څخه خپل هیوادوال او نړیوال خبر کړو او په ډاګه ووایو چې نه یوازې د پاکستان په ورځپاڼو کې د طالبانو او تروریستي عناصرو لپاره تبلیغات کیږي بلکې دولتي لوړ پوړي مسوولین یې هم د نړیوال فشار له ویرې په غیر مستقیمه توګه او په پټه دفاع کوي په لندن کې د پاکستان ولسمشر پرویز مشرف څرګند کړه چې نور القاعده او د هغوی مشري په پاکستان کې له منځه تللي بی ځواکه شوي او تخریبي فعالیتونه نشي کولای دا یوازې د نړیوالو نظر بل خواته اړول دي. ۲ مخ

ده طالب دستګیرشده است

مقامات ولایت زابل ، از دستګیری ده طالبی خبر داده اند که به اساس ادعای آنها ،تازه از پاکستان به قصد اجرای اعمال تخریبی داخل کشور شده بودند.

گلاب شاه علی خیل، سخنګوی والی زابل گفت: ((این دسته طالبان در قریه بدین ولسوالی شینکی با ده عراده موتر سایکل مخابره و یک مقدار سلاح دستګیر شده اند .))

موصوف همچنان گفت که این افراد تحت تحقیق قرار دارند و هر کس میتواند که آنها را از نزدیک مشاهده نماید.

المصري په کونړ کې دعرب اورپکو قوماندان وټاکل شو

په کونړ ولایت کې عربو اورپکو د ابو اخلاص المصري په نوم یو عرب خپل نوی قوماندان ټاکلی دی.

دعربو جنګیالیو یو استازي ابو تائب الجزایري پژواک خبري آژانس ته ویلي چې د ابو اخلاص ټاکنه په نورستان او کونړ کې د اورپکو عربو مجاهدینو د شورا له پریکړې څخه وروسته وشوه.

۴مخ

افغانستان دې دپاکستان په ضد پروپاګند نکوي

د پاکستان جمهور رییس افغانستان ته ګوابس کړی چې ددوی پرضد دې له بې اساسه پروپاګند څخه لاس واخلي او بې ځایه تورونه دې نه لګوي.

دپاکستان جمهور رییس جنرال پرویز مشرف د زمري په ۳ مه د لاهور په ښار کې یو خبري کنفرانس ته د ویلو پر مهال وویل چې دوی دافغانستان له دولت سره هر راز مرستې کوي او غواړي چې په افغانستان کې امنیت او ثبات ټینګ شي.

۴مخ

پرویز مشرف، رئیس جمهور پاکستان که از لندن بازدید می کند در جمع خبرنګاران ګفته است که شبکه القاعده و سیستم کنترول و فرماندهی آن کاملا متلاشی شده و اکنون در موقعیتی قرار ندارد که بتواند از داخل پاکستان به حملات هم آهنګ و سازمان یافته دست بزند.باوجود این ، ماهیت حملات هفتم جولای در لندن و نیز ۲۳ جولای در مصر که از خصوصیات حملات شبکه القاعده برخوردار است موجب این نګرانی شده که توانایی های این شبکه برای صدور فرمان حملات را ممکن است دست کم گرفته باشند. ص۴

شبکه القاعده متلاشی شده است

تظاهرات در بګرام

شماری از باشندګان ولایت پروان در اعتراض به آنچه بازداشت سه تن ازاهالی منطقه و انتقال آنان به پایګاه نیروهای ائتلاف بین المللی در بګرام خوانده می شود در برابر این پایګاه دست به تظاهرات زده اند.

شاهدان عینی می ګویند که شمار تظاهرکنندګان به صدها تن می رسید اما برخی از آژانس های خبررسانی شمار این افراد را نزدیک به دو هزار نفر ګفته اند. ص۴

ولسي جرګې ته یو کاندید ووژل شو

له پکتیکا ولایت څخه ولسي جرګې ته یو کاندید ډاکټر عزت الله دزمري په ۴ مه نېټه د نا معلومو وسله والو لخوا ووژل شو.

دپکتیکا دامنیت امر مالک خان پژواک خبري آژانس ته ویلي چې نومورې دخپلې کورنۍ له غړو سره دوازې خوا ولسوالۍ څخه دښرنې ښار ته روان و ، چې موټر يې په ریموټ کنټرول بمب والوزول شو.

۴مخ

حمله راکتی برجلال آباد

شهر جلال آباد صبح دیروز هدف شلیک چهار فیر راکت قرار گرفت که خوشبختانه تلفات جانی در قبال نداشت .

این راکت ها در شرق شهر در منطقه خوش گنبد درنزدیکی میدان هوایی اصابت نموده و بگفته باشنده گان منطقه یکی آن در دریا و سه دیگرآن در مزارع اصابت نموده است . ص۴

دو طالب حین ماین ګذاری دستګیر شدند

نیروهای امنیتی ولایت زابل میګویند که در ولسوالی شهرصفا دو طالب را دیروز حین جابجا نمودن ماین در مسیر شاهراه دستګیر نمودند . غلام رسول خان قوماندان امنیه شهرصفا ګفته است که دو طالب به نام های ملاحکمت الله و حبیب الله که در مسیر شاهراه این منطقه ماین را جابجا مینمودند دستګیر شدند.

به ګفته وی از طالبان موصوف تحقیقات را آغاز نموده اند.

له کانديداتوری څخه تيريدل د نورو د پاره د بري چانس زياتوي

سهراب ديدار

پارلمان د نړۍ په هغو ټولنو کې د يوه با اعتباره تقنيني ارګان په توګه رامنځته کيدای شي او د هيواد او خلکو په وړاندې خپلې ورسپارل دندې د دولت په سطحه کنترول او څارنه ښه سرته رسولی شي چې په هغو ټولنو کې د زور زياتی مسائل پای ته رسيدلی وي او خلکو په رښتيني توګه د ملت په وړاندې يو ملي احساس پيدا کړی وي پداسې ټولنو کې پارلمان د يو اګاه ارګان په توګه کولای شي د نړيوالو معيارونو په رڼا کې له پيل څخه تر پای پورې خپلې ټاکلی اصول مراعات کړي خو په وروسته پاتې ټولنو کې خلك په ذهني لحاظ رسيدلی نه وي د داسې ټولنو په پارلمانونو کې له زور، ګواښونو او پيسو ورکولو څخه کار اخيستل کيږي چې مونږ په نړۍ کې او ان چې په خپل هيواد کې د داسې کړنو د شته والی شاهد يو.

د موقتي لويي جرګې لپاره او دغه راز د ولسمشری د ټاکنو د اساسي قانون د تصويب په ټولو پراوونو کې مونږ داسې اعمال د سړې سترګو وليدل د ولسمشری لپاره د استازو په ټاکلو مو هم وليدل چې ډير استازي له خپل وکالت څخه تير شول.

او په کورونو کې کيناستل خو اوس چې مونږ په هيواد کې د بن د پريکړو له مخې د پارلماني انتخاباتو د کيدون وروستی پريکړه عملي کيږي او د پارلماني انتخاباتو او يا که ووايو د پارلمان د جوړولو لپاره تياری ټيول شوی دری ډوله اشخاص د کانديداتوری لپاره را وړاندې شوی دي.

يو هغه وسله وال قوماندانان دي چې لاتر اوسه پورې ډير وسله وال اشخاص او وسلی په واك کې لري داسې اشخاص غواړي چې په خپلو سيمو کې د خپل پوځي نفوذ په زور او کله کله د ګواښونو پواسطه زياتی رايي تر لاسه کړي او لدې لارې وکړای د بري چانس تر لاسه کړي.

دويم ډول هغه اشخاص دي چې د زياتو پيسو درلودونکي دي او دا کسان د افيمو او پودرو په قاچاق پوره لاس لري غواړي چې د پيسو په زور بری تر لاسه کړي.

او دريم هغه اشخاص دي چې نه زور لري او نه خو پيسې لري خو داسې اشخاص يوازې د خپل ملي احساس په شته والي غواړي چې پارلمان ته لاړ شي خو داسې کسان د خپلې ناکامی په باره کې هم شك نه ردوي که څه عام خلك له لومړيو او دويم ډول اشخاصو باندې خوشاله نه دي مخالف يې دي او انتقادونه پرې لري خو لدې امله چې محاکمو کې يې جرم ثابت نه دی نو ځکه خو له لست څخه نه لويږي.

پورتني اشخاص د خپلو خاصو دوستانو په شته والي سره نه يوازې ګواښونه کوي بلکې د پيسو له ورکولو څخه هم لاس نه اخلي.

په ځينو ولايتو کې ځينې کانديدان چې وسله وال او پيسه داره نه دي او دهغوی د کانديدی لپاره د خلکو زياته هيله وه د ډيرو په اند د پيسو په اخيستلو سره له خپلې کانديدی څخه تير شوی او دا بهير لاروان دی د خلکو سره پوښتنه دا پيدا کيږي چې دی وروستيو کانديدانو د څه اهدافو لپاره ځانونه کانديد کړل او ولی دا لاره تر پای پورې تعقيب نه کړه که چيرې د خلکو اند رښتيا وېولو ويلای شو چې زمونږ په روښنايي هيله نشو کولای.

پارلمان کې به د ملي اشخاصو شته والي کم او تل به په غونډو کې د وسله والو قوماندانانو او قاچاقبرانو تر اغيز لاندې وی د هيواد او خلکو په ګټه هيڅکله جوړوونکي نظر وړاندې کولای نشي نو پداسې شرايطو کې به رامنځته شوی پارلمان د هيواد او خلکو ټاکل شوی لاره باندې تګ په ټپه ودروي او په هيواد کې به تر نن لازياته ګډوډي د پارلمان په شته والي کې رامنځته شي او د پارلمان په شته والي کې به ډير هغه مسايل چې خلك يې د پارلمان له لاري د ځليدو هيلی لري هغه به په يو اړخيزه لاره روان وي له دې هيلو څخه به يوه هم د جنګي مجرمينو محاکمه وي چې داسې پارلمان کولای چې يا برائت ورکړی او يا خو د محاکمې د کولو په صورت کې يې له کړي جرم څخه خلاص کړي ځکه خو د خلکو هيله ده چې په لست د ملي شوو کانديدانو کې له خپلې کانديدی څخه تير شوی او د بهير لاروان دی تيريدل په حقيقت کې د وسله والو قوماندانانو او قاچاقبرانو لپاره د بری چانس په لاس ورکوي. که چيرې زمونږ په راتلونکي پارلمان کې د لومړنيو دوو ډلو شته والی زيات شي نو په هيواد کې د راتلونکي روښنايي هيله نشو کولای.

د انتخاباتو معلومات
معلومات انتخاباتی
شما میتوانید صرف دهمان ولایتی
رای دهید که در کارت ثبت نام
شما درج است
تا سویه یازدهم پوهنتون ولایت کې
رایه ورکولای شئ چې ستاسو د نوم لیکنې
په کارت کې لیکل شوې وي
زمونږ هیواد، زمونږ راتلونکی، زمونږ رایه
کشور ما، آینده ما، رای ما

پاکستان خپلې ويناوې...

تر اوسه پورې زمونږ په هيواد کې له سرحدي پولو څخه د تروريستي او تخريبي عناصرو په فعاليت کې هيڅ کمښت نه دی راغلی دا څرګندونې په داسې وخت کې کيږي چې نړيوالو ته د پاکستان تروريستي روزنيز مرکزونه رسوا شول پدې ډول غواړي چې د تروريستي عناصرو د روزلو وسله وال کولو او رالېږلو په باره کې د ښکاره شواهدو په خلاف د نړيوالو نظر بل لوری ته واړوي د ډلو ډلو تخريبي عناصرو راتګ، نيول او وژل کيدل پخپله د جنرال مشرف وينا ردوي د نړۍ په يو اسلامي هيواد کې دومره ديني مدرسې وجود نه لري لکه په پاکستان کې چې موجود دي او د زياتو مدرسو له چوکاټ د انسانيت او مدنيت ضد عناصر روزي زمونږ هيواد او نړۍ ته يې د تخريب لپاره ليږي چې د پاکستاني نيول شوو طالبانو او تروريستانو څرګندونې زمونږ د ادعاوو ښه ثبوت دی.

واقعيت دادی چې په پاکستان کې زمونږ د هيواد هر اړخيزه سوکالی ته سترګې نشی غړولی زمونږ په ضد تبليغات اصلاً په هغه هيواد کې چې قانوناً حق نه لري کيږي او بله دا چې عملاً تروريستان رالېږي او دا هغه کړنې دی چې اوس د نړيوالو لپاره ثابتې شوي دي او په دې پوه شول چې په نړۍ کې د تروريستي عناصرو د روزلو يوازينی پالونکی د پاکستان هيواد دی او هغه هيواد پدې کړنو سره هيڅکله نشي کولای چې له ګاونډيو سره خپلې تش په نامه دوستانه اړيکې په اثبات ورسوي.

متصدی صفحه : بشیر نذیر

ورزش ضامن تندرستی

تیم منتخبه شهر کابل در اتلتیک خفیفه انتخاب گردید

مسابقات اتلتیک خفیفه بین تلاوت از قران عظیم الشان توسط استاد قاری فرید روز شنبه ۲۲ سرطان آغاز گردید. سپس محترم جان عمل حسینی رئیس فدراسیون اتلتیک خفیفه دررابطه روشنی همه جانبه انداختن بعداً محترم سید احمد ضیاء مظفری سکرتر جنرال المپیک مسابقات را رسماً افتتاح نمود، درین مسابقات ورزشکاران ده کلپ از موسسات رسمی شرکت نموده بودند که در مجموع به تعداد ۲۸۰ ورزشکار درین مسابقات شرکت نموده بودند درنتیجه این مسابقات اداره محیط زیست با اخذ ۵۹ امتیاز حایز مقام اول تیم کلوپ سپورتی اردو با اخذ ۵۳ حایز مقام دوم تیم کلپ ورزشی توحید با اخذ ۵ امتیاز حایز مقام سوم گردیدند.

مسابقات انتخاباتی تکواندو در ولایت پروان

مسابقات انتخاباتی تیکواندو به منظور گزینش تیم منتخبه تکواندو ولایت پروان روز جمعه ۳۱ سرطان میان پنج کلپ در چهارکتگوهای سنی در شهر چاریکار مرکز ولایت پروان برگذار گردید در مسابقات متذکره ۱۲۰ تن ورزشکار شرکت داشتند که با نتایج ذیل پایان یافت:

در بخش نونهالان: - کلپ تکواندو شعیب باکسب ۲۹ امتیاز مقام اول، کلپ حبیب با کسب ۲۲ امتیاز مقاوم دوم، کلپ شاکر با کسب ۳ امتیاز مقاوم سوم و کلپ حیدری با کسب ۱۰۱متیاز مقام چارم را بدست آوردند.

در بخش خوردسالان: - کلپ حبیب با کسب ۲۹ امتیاز مقاوم اول، کلپ شعیب با کسب ۱۵ امتیاز مقاوم دوم،کلپ شاکر با کسب ۱۹ امتیاز مقاوم سوم و کلپ شفیق با کسب ۴ امتیاز مقام چارم..

در بخش نوجوانان:- کلپ شعیب با کسب ۲۵ امتیاز مقام اول، کلپ حبیب با کسب ۱۹ امتیاز مقام دوم کلپ شاکر با کسب ۶ امتیاز مقام سوم و کلپ حیدری با کسب ۳ امتیاز مقام چارم.

در بخش بزرگ سالان کلپ بازگشاتی با کسب ۱۹ امتیاز مقام اول کلپ حبیب با کسب ۱۸ امتیاز مقام دوم، کلپ حیدری با کسب ۸ امیتاز مقام سوم، کلپ شاکر با کسب ۷ امتیاز مقام چارم و کلپ شعیب با کسب ۴ امتیاز مقام پنجم را بدست آوردند.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ دکرکټ لوبه دشخړې بنکار شوه

لـه اوولسو کالو څخه وروسته دافغانستان دکرکټ دکم عمره ټیم ا و د پاکستان دپښور ښار دکرکټ ټیم ترمنځ دزمري په لومړۍ نېټه لوبه دشخړې بنکار شوه.

دافغانستان د کرکټ ټیم دچارواکو په وینا په آسیایي لوبوکې ګډون ته دتیاری په خاطر دافغانستان له اوو لسو کالو څخه کم عمره لوبغاړي دپښور له سیمه ییزو ټیمونو سره دازمایښتي لوبو لپاره دې ښار ته تللي دي.

د پښور ښار په جمخانه کرکټ لوبغالي کې د زمري په لومړۍ نېټه دافغانستان او دپښور د نانک پوړې په نوم د سیمه ییز کرکټ ټیم ترمنځ لوبه وشوه چې دنانک پوړې ټیم لومړی لوبه وکړه او په ۳۰ اوورنو کې ۲۰۱ منډې جوړې کړې اود افغانستان ټیم ته یې د ۲۰۲ منډې هدف ورکړ.

د افغانستان له ۱۷کالو څخه کم عمره لوبغاړو ښه لوبه پیل کړه چې له دې ډلې څخه منصور. حیدر او ګلبدین ډېره ټېزه لوبه وکړه او د لوبغالي څلور واړو خواوو ته یې توپ وواهه.

خو کله چې د افغانستان دکرکټ ټیم مخ ته د لوبې ګټلو لپاره یوازې ۲۵ منډې پاتې وې نو په دې مهال د دواړو ټیمونو ترمنځه په یوه منډه شخړه پیدا شوه. چې له دې وروسته دریفریانو (ایمپایرانو) لخوا لوبه مساوي او له کومې پایلې پرته اعلان شوه.

د افغانستان له ۱۷کالو څخه د کم عمره لوبغاړو ټیم د کوچ (مربي) دولت خان احمد زي وویل چې ددوی د سفر نوري سیالۍ به په ښه فضا او دکرکټ له اصولو سره سمې ترسره شي.

دولت خان احمد زي زیاته کړه: «موږ دا سیالي هېره کړه او اوس به نوې سیالۍ ته له نوې جذبې سره لوبغالي ته راځو او کوښښ به کوو چې له دې وروسته هره سیالۍ کې غوره لوبه وکړو.»

ده وویل که څه هم د افغانستان ملي لوبه بزکشي ده خو دا مهال کرکټ په افغانستان کې یوه وتلې لوبه ده چې خوښوي او په زرګونو ځوانان دغه لوبه کوي.

دده په وینا د افغانستان له ۱۷ کالو څخه د کم عمره لوبغاړو ټیم په راتلونکې میاشت کې مالیزیا کې له ۱۷ کالو څخه د کم عمره لوبغاړو په اسیایي سیالیو کې برخه اخلي او چمتو والي لپاره یې پاکستان ته په لس ورځني سفر راغلي دي چې ددې ځای له ځایي ټیمونو سره مشقونه وکړي.

دولت خان احمدزی وایي چې د افغانستان ملي کرکټ ټیم به روانه میاشت کې د کاناډا سفر کوي او د نومبر په میاشت کې به د سریلانکا هېواد ته دسفر پر مهال شپږو، یو ورځنیو سیالیو کې برخه واخلي

دیادونې وړ ده چې څو ورځې وړاندې په لندن کې د کرکټ د نړیوال فدراسیون په غونډه کې په افغانستان کې د کرکټ د وډې او پرمختګ لپاره د ۲۰ زرو ډالرو مرستې اعلان شوی دی.

تصویب بودجه مالی یکساله برای فدراسیون کرکت افغانستان

فدراسیون کرکت آسیا برای پیشرفت این بازی در افغانستان برای یکسال کمک شصت هزار دالری را اعلان نموده است سکرتر جنرال فدراسیون کرکت افغانستان در جلسه سازمان های بین المللی کرکت یا ICC که در لندن چند رر قبل دایر گردیده بود شرکت داشت در آنجا در مورد بازی کرکت در افغانستان با آنها صحبت نموده در این جلسه گزارش در مورد پیشرفت کرکت در افغانستان تقدیم گردید و بودجه یکساله منظور گردید که برای افغانستان شصت هزار دالر در یکسال اختصاص داده شده است موصوف گفت تیم کرکت افغانستان از مراحل آموزشی میگذرد و برای این هدف به کشور های مختلف که در آن کرکت رایج میباشد سفر مینماید قرار است تیم ملی کرکت افغانستان در ماه نوامبر عازم سیریلانکا شود و در آنجا با تیم های محلی مختلف در یک تورنمنت شش مسابقه یی حصه بی گیرد که با آن ورزشکاران تجربه زیادی بدست خواهد آورد.

اشتراک ورزشکاران بدمنتون افغان در اندونیزیا

تیم هشت نفری بدمنتون افغانستان بعد از شرکت در مسابقات بین المللی بدمنتون در اندونیزیا و شکست دادن تیم بدمنتون کشور عراق وارد کشور گردید در این مسابقات که با شرکت ورزشکاران ۳۱ کشور جهان در جاکارتا پایتخت کشور اندونیزیا راه اندازی گردیده بود کشور چین مقام اول و کشور کوریای جنوبی مقام دوم را کسب نمودند سید گل ظهوری رئیس فدراسیون بدمنتون ضمن اظهار این مطلب گفت تیم افغانی با تیم های کشور های عراق، کوریا و چین مسابقه داشتند که در نتیجه دربرابر تیم های چین و کوریا مغلوب اما بالای عراق غلبه حاصل کردند، نامبرده افزود که بر علاوه در این مسابقات سیمینار دوروزه مربی گیری در کشور اندونیزیا تدویر یافته که در آن دو تن از مربیان بدمنتون افغان شرکت کردند.

تیم پینگ پانگ کشور عازم هندوستان شد

یازدهمین دور مسابقات قهرمانی آسیایی جوانان و نوجوانان پینگ پانگ از تاریخ ۲۳ – ۲۸ جولای در شهر دهلی پایتخت هندوستان برگذار می گردد. شرکت کننده این مسابقات از جانب افغانستان تیم چار نفری فدراسیون پنگ پانگ که در ترکیب آن ۲ ورزشکار، یک ترینر و رئیس هیئات شامل میباشد روز جمعه ۳۱ سرطان عازم هندوستان گردیده اند.

امضای توافقنامه بخاطر استحکام روابط ورزشی

بر اساس دعوت فدراسیون بین المللی زورخانه یی ووزارت سپورت کشور تاجکستان محمد انور جگدلک رئیسی عمومی کمیته ملی المپیک و معاون اول فدراسیون ورزش های باستانی زورخانه یی که غرض شرکت در افتتاح اولین ورزشگاه باستانی زور خانه یی به کشور تاجکستان سفر نموده بودند بعد از افتتاح ورزشگاه و عقد پروتوکول ها با کمیته ملی المپیک تاجکستان و وزارت سپورت آن کشور دوباره بوطن باز گشتند. در مفاهمه نامه ایکه میان رئیس کمیته ملی المپیک افغانستان و رئیس المپیک تاجکستان به امضاء رسید تأمین روابط بین المپیک دو کشور ،رفت و آمد تیم های ورزشی، تبادله تجارب ورزشکاران مبارزه با دو پینگ و پیاده نمودن مواد منشور المپیم در عرصه های مختلف شامل میباشد. همچنان در توافقنامه ایکه میان رؤسای تربیت بدنی و سپورت افغانستان ووزارت سپورت تاجکستان به امضا رسیده است، ایجاد روابط بین ولایات همجوار در عرصه ورزش اشتراک در کورس های بین المللی که در یکی از کشور ها تدویر میبابد کشور دوم نیز میتواند شرکت نماید همچنان جانب تاجکستان محصلین افغانی را در کورس های قصیر المدت و شمولیت در پوهنحی تربیت بدنی تاجکستان دعوت خواهد نمود. درین سفر سید محمود ضیادشتی معاون المپیک، رحمت الله نورستانی رئیس فنی و عبدالرشید جانباز رئیس پلان و روابط خارجی کمیته ملی المپیک نیز آقای جگدلک راهمراهی مینمودند.

ولسي جرګې ته يو...

ده زياته کړه چې په دغه پېښه کې ډاکټر عزت الله وژل شوی ، مور او درې ماشومان يې ټپيان شوي دي.

ده داهم وويل چې ټپيان دايساف دځواکونو لخوا په خوست ولايت کې دائتلافي ځواکونو روغتون ته ليږدول شوي دي.

ديپکتيکا ولايت دملي امنيت مرستيال شاه ولي خان پېښه تاييد خو دنورو جزئياتو له ورکولو څخه يې ډډه وکړه.

بلخوا دطالبانو ويانډ لطيف الله حکيمي پژواک اژانس ته ويلي دي چې ددوی ځواکونو په دغې ولسوالۍ کې پارلمان ته کاندید ډاکټر عزت الله وژلی دی.

ده وويل چې ددوی سرتيري دنومورې له وژل کيدو وروسته له سيمې څخه وتلي دي.

راتلونکو پارلماني ټاکنو ته کاندید شوی يو قومي مشر ، اختر محمد (تولواک) هم د غويي پر ۲۱ شپه د غزني ولايت د (ده يک) په ولسوالۍ کې، د ناپېژاندو وسله والو په کمين کې له خپل موټروان سره وژل شوی و.

شبکه القاعده متلاشی ...

در سالهای اخیر تاکید زیادی برعدم وجود تمرکزدر دستگاه القاعده شده بود ولی هنوز این احتمال وجود دارد که ممکن است شخصی در رده رهبری دستور عملیاتی را صادر کند که اجرای آن بعدا به شبکه های جداگانه ای محول شده باشد.

ارتباط قطعی عاملین بمب گذاری ۷ جولای با بمب گذاری های نافرجام ۲۱ همین ماه در لندن معلوم نیست اگر چه اکنون نشانه های فزاینده ای از وجود بعضی ارتباطات بین این دو حمله دیده می شود.

ارتباط بین بمب گذاران تاریخ هفتم جولای با پاکستان نیز هنوز در حال بررسی است بدون این که نتیجه ای از آن حاصل شده باشد.

ادعاهای مصر مبنی بر اینکه این کشور در ارتباط با بمب گذاری های شرم الشیخ در جستجوی یک گروه پاکستانی است ، آقای مشرف را تحت فشار بیشتری قرار می دهد تا ثابت کند که باقیمانده شبکه القاعده درپاکستان در شرایطی قرار ندارد که بتواند دست به حمله بزند.

صدای ملا عمر تحویل ...

این نوار صوتی توسط مردی ناشناس در شهر کندهار که زمانی پایگاه اصلی طالبان بود تحویل دفاتر چند رسانه شده است.

صدای ضبط شده در این نوار خواستار اتحاد و پایان اختلاف ها در جنبش طالبان می شود.

این مرد می گوید "به جهاد ادامه دهید" و "پیروزی ازآن شما خواهد بود."

تاکنون این مساله که صدا به ملا عمر تعلق دارد تایید نشده است.

اردوی امریکا که سه ونیم سال گذشته را در جستجوی ملا عمر بوده است از اظهار نظر درباره آن خودداری کرده است.

اما رهبر طالبان در گذشته برای هوادارانش چندین پیام صادر کرده بود که تصور می شود واقعا به او تعلق داشته باشد.

آخرین پیام سه ماه پیش به نام او صادر شد که در آن پیشنهاد عفو دولت حامد کرزی را رد می کرد.

اگر اصالت نوار تازه تایید شود وی احتمالا در اظهارات خود به اختلافات بروزکرده در درون طالبان در پی ابتکار عمل دولت برای آشتی جویی اشاره دارد.

این پیشنهاد باعث شد برخی از اعضای گروه طالبان سلاح های خود را به زمین بگذارند.

اما علیرغم خوشبینی ها مبنی بر تاثیر این پیشنهاد در جهت کاهش خشونت ها، ماه های اخیر شاهد خونین ترین حوادث از زمان سقوط طالبان بوده است.

افغانستان دي دپاکستان ...

جنرال پرويز مشرف وويل چې افغانستان سره ډېرې ښې اړيکې لري خو له بده مرغه کله نا کله د افغان چارواکو له لوري داسې منفي بيانونه او ښځايه تورونه مخې ته راشي چې د دواړو هېوادونو ترمنځه ښې اړيکې له سوال سره مخامخ کړي.

جنرال پرويز مشرف زياته کړه: «مور دخپل هېواد دنظام په چلولو ښه پوهېږو، افغان حکومت دې مور ته د نظام چلولو مشورې نه راکوي، دوی بايد خپلې ذمه واری وپېژني او د خپل هېواد نظام دې پر مخ بوځي.»

جمهور رييس جنرال پرويز مشرف ګوابن وکړ چې که دافغانستان له لوري د پاکستان په اړوند منفي پروپاګند بند نه شو نو دوی به هم په ځوابي عمل مجبوره شي.

جنرال پرويز مشرف زياته کړه: «مور دلته د القاعده ريښې په بشپړه توګه ختمې کړي دي او هيڅوک نشي کولی چې دپاکستان له خاورې نه د افغانستان په ضد کوم کار وکړي.»

دپاکستان دجمهور رييس پرويز مشرف د ګوابن او غوښتنې په ځواب کې دافغانستان د دولت ويانډ کريم رحيمي پژواک خبري آژانس ته ويلي چې د وخت په تېرېدلو سره به معلومه شي چې دجنرال مشرف خبرې څومره صحيح دي.

ده زياته کړه: «سفر صدر اعظم پاکستان که يک مقام رسمي است ، به افغانستان به ما اطمينان داد که در هر گونه مسايل به دولت افغانستان همکاری ميکنند.»

ده داهم وويل: «صحبتهای اخر بسيار صميمانه بود. واين بيان گر آنست که هر دو کشور مناسبات خوب دارند.»

حمله راکتی بر...

خالد احمد عرب، باشنده منطقه، به آژانس خبری پژواک گفته است که شیشه های منازل نزدیک به محل اصابت راکتها شکسته است .

خلیل الله ضیایی، قوماندان امنیه ولایت ننگرهار ، ضمن تائید این خبر گفت که اصابت راکتها تلفات مالی و جانی در قبال نداشته است و تحقیقات در مورد ادامه دارد ، اما تاکنون کسی به اتهام آن ، دستگیر نگردیده است .

تظاهرات در ...

اين افراد ادعا می کنند که نظاميان امريکايی شب گذشته (۲۵جولای) سه تن از افراد "با نفوذ" را از قريه ده ملای ولسوالی بگرام بازداشت کرده و با استفاده از هلی کوپتر، به ميدان هوايی بگرام منتقل کرده اند. بر اساس ادعای تظاهر کنندگان، سربازان امريکايی برخی اسباب منازل اين افراد را نيز با خود برده اند.

آمر پوليس ولايت پروان به بی بی سی گفته است که او در مورد دلايل اين بازداشت چيزی نمی داند.

المصري په کونړ کې...

ابو تائب الجزايري چې تقريباً شپږ ديرش کاله عمری لري زياته کړه چې د روان کال دجون په ۲۸مه وروسته له هغې چې په کونړ کې امريکايي الوتکې سقوط وکړ . د عرب مجاهدينو حوصلې لوړې شوې دي.

ده ده په وينا ابو اخلاص المصری چې د تېر جهاد پر مهال په کونړ ولايت کې د کونړيانو په منځ کې پېژندل شوې ځيره ده او له يوې نورستانی سره يې واده هم کړی دی ، نومورې دري لورګانې او دوه زامن لري.

ابو تائب الجزايري زياته کړي: «اوس په نورستان او کونړ کې له يو سل اوياوو تنو څخه زيات عرب مجاهدين شته چې د دښمن خلاف په مبارزه بوخت دي.»

د ابو تائب په وينا د عرب مجاهدينو نوی قوماندان ابو اخلاص له تولو هغو عرب مجاهدينو څخه چې په افغانستان او يا په نورو هېوادونو کې له ستونزو څخه ډک ژوند تيروي وغوښتل چې کونړ او نورستان ولايتونو ته راشي او دجهاد صفونه تقويه کړي.

ابو تائب داهم وويل چې د دوی په جنګياليو کې د ليبيا، مصر، المغرب ترڅنګ د عراق او يمن ملګري هم شته.

ابو تائب داسامه بن لادن ، ايمن الظواهري او حکمتيار په اړه ويلي: «الحمدلله دوی ژوندي دي ، روغتيايي حالتونه يې هم ښه دي ، مګر زه معلومات نه لرم چې دوی چېرته دي.»

قاتل فلمساز هالندی به حبس ابد محکوم شد

محکمه ای در هالند محمد بویری، مسلمان مراکشی تبار را به جرم قتل تئو ون گوگ، فلمساز هالندی، به حبس ابد محکوم کرده است.

محمد بویری، ۲۷ ساله که از وی به عنوان یک اسلامگرای افراطی نام برده شده و دارای تابعیت دوگانه مراکشی و هالندی است، در ماه نوامبر سال گذشته با ضربات کارد و شلیک گلوله تئو ون گوگ را در شهر امستردام به قتل رساند.

وی پس از دستگیری به جرم خود اعتراف کرده و گفته بود که فلمساز هالندی به دلیل جسارت به اسلام مستحق مرگ بوده است.

آقای بویری در جریان محاکمه نیز اقدام خود را موجه دانست و گفت که نه تنها از قتل تئو ون گوگ پشیمان نیست بلکه هرگاه با وضعیت مشابهی مواجه شود مجدداً به همین اقدام دست خواهد زد.

قضات محکمه در حکم خود اقدام محمد بویری را عمل تروریستی تشخیص دادند.

با خاتمه رسیدگی به دوسیه قتل تئو ون گوگ، څارنوالی هالند باید در مورد ادامه تعقیب کیفری محمد بویری به اتهام عضویت در یک سازمان تروریستی تصمیم بگیرد.

در حال حاضر، دوازده نفر دیگر به ظن ارتباط با عضویت در یک گروه تروریستی و برنامه ریزی برای دست زدن به خرابکاری در هالند در انتظار محاکمه به سر می برند.

څارنوالی هالند معتقد است که محمد بویری از اعضای کلیدی این گروه بوده اما هنوز شواهد کافی برای تکمیل دوسیه علیه وی در این ارتباط به دست نیاورده است.

انگیزه قتل فلمساز هالندی ساختن فلم کوتاهی بود که مردان مسلمان را نشان می داد که زنان مسلمان را مورد اذیت و آزار قرار داده و آنان را به ازدواج های اجباری وادار می کنند.

در صحنه ای از این فلم، که تسلیم نام دارد، بدن نیمه برهنه زنان نشان داده شده که بر روی آن آیاتی از قرآن نوشته و گفته شده بود که اسلام اجازه تنبیه زنان نافرمان را داده است.

تئو ون گوگ، ۴۷ ساله که از نوادگان وینسنت ون گوگ، نقاش صاحب نام هالندی است، از جمله فلمسازان برجسته این کشور محسوب می شد.

این فلم با مصرف فلمساز و به طور مخفیانه تهیه شد و قرار بود بخش اول از یک مجموعه سه قسمتی را تشکیل دهد.

فلمنامه تسلیم را ایان هیرسی علی، زاده سومالی و عضو پارلمان هالند، نوشته بود.

خانم هیرسی علی از جمله منتقدان نحوه برخورد با زنان در جوامع اسلامی است و هدف خود از نوشتن فلمنامه تسلیم را جلب توجه به خشونت علیه زنان مسلمان توصیف کرده است.

در یادداشتی که در کنار جسد آقای ون گوگ یافت شد ایان هیرسی علی نیز به قتل تهدید شده بود.

قتل تئو ون گوگ به دست فردی که در هالند متولد شده و پرورش یافته اما به تندروی مذهبی گرایش پیدا کرده بود جامعه هالند را تکان داد و باعث چند مورد عملیات خشونت آمیز علیه مراکز مسلمان شد.

۵۰ طالبان وژل ...

جان محمد خان زياته کړه : په دغو عملياتو کې دوه دملي اردو او دوه دائتلافي ځواکونو سرتيري وژل شوي دي.

دارزګان دوالي په وينا چې له دغه مرکز څخه يې په سلګونو ميله درنې او سپکې وسلې هم لاس ته راوړې دي.

بلخوا دطالبانو ويانډ لطيف الله حکيمي پژواک سره په يوه تماس کې دامنلي چې دغه مرکز يې له منځه تللی دی. خو نومورې ادعا وکړه چې په دغه نښته کې ۲۸ دولتي او دائتلافي ځواکونو سرتيري يې وژلي او ددوی څلور سرتيري مړه او دوه ټپيان شوي دي.

حکيمي زياته کړه چې په دغه مرکز کې ورځې ځومیله وړې او سپکې وسلې پاتې شوي چې دولتي ځواکونو وړې دي.

حکيمي داهم وويل چې په دغه سيمه کې يې ددولتي او ائتلافي ځواکونو دموټرو په کاروان برید کړی دی او تول يې له منځه وړې دي.

حکيمي وايي چې ځواکونه يې غرونو ته ختلي دي او دمقاومت په حال کې دي.

دپارلماني ټاکنو له رانږدې کيدو سره په دې وروستيو کې په سوبلي ولایاتو کې دبې امنيتی پېښې زياتې شوې دي.

د ارغستان امنیه قوماندان ...

بلخوا دطالبانو ويانډ لطيف الله حکيمي د ارغستان دامنيه قوماندان حاجي پايو دوژل کيدو پره په غاړه اخيستې ده.

نومورې پژواک خبري آژانس ته وويل چې ددوی سرتيرو نومورې وژلی دی.

دغبرګولي په ۲۷ مه هم طالبانو د کندهار ولايت د ميانشين ولسوالی امنيه قوماندان نانی آغا له ۱۱تنو سرتېرو سره تښتولی و، چې بيا يې وروسته وژلي وو.

ERADA Daily

ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظرهیات تحریرانتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب دیدار

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com